# د سهېلي پښتونخوا د اولسي ادب ارتقاء، معنویت او هیئتونه

# The Geners And Poetic Construction Of Pashto Folklore In South-Pashtunkhwa

فیض الله پانیزی*

**Abstract:**

Traditional societies are innately poetic and there are serval types of spontaneous experssions both in poetry and prose.As it depends on the oral tradition and there are least documentary evidences and practice for its conservation,therefore a huge bulk of folklore is decayed.in this paper the paper has strived to underpin the evolution and construction of poetic genres that are mainly stemmed in the concrete social and political realities of the area.The author has a argued that,if properly compile and analyzed the folklore can potentially be used as a tool for reterving the cultural history of people that are dependent on the oral tradition. He was elaborated various genres and has analyzed the nature and objectives behind the creation.

د آرټ او میوزك په حقله دا خبره زیاتره ژبپوهان یقیني ګڼي چې د انسان او د فن تاریخ یو دی څومره چې انسان په خپله زوړ دی دغومره میوزك، آرټ او شاعري لرغونې ده. رنګه چې انسان د خپل تخلیقي حسیاتو په بنسټ د ژوند د ادنٰی حالتونو څخه د اعلٰی او زیات عقلي حالتونو ته سفر کړی دی دغومره په فن او شاعري کښې بدلون راغلی دی.

د سهېلي پښتونخوا فولکلوري ادب مونږ په درو پېړیو کښې تقسیمولی شو. لومړی د هغه دور فولکلور چرې چې ژوند لاسکوت نۀ ؤ خوړلی، انسان د نورو ځناورو سره د اوبو او وربښوګانو په لټون د کوچیاني ژوند کاوۀ، نن هم ګڼ شمېر قبیلې کوچیانه ژوند کوي. د فولکلوري ادب دویمه برخه د هغه وخت اولسي تخلیق دی کله چې انسان په کلاګانو کښې ژوند اختیار کړ.

دلته دا خبره څرګنده ده چې مونږ فولکلور څۀ ته وایو، خصوصاً په علمي توګه دا اصطلاح څومره خوره ده.

---

*په پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه کښې اسسټنټ پروفیسر دی.

"فولکلور د انګرېزي ژبې یوه مرکبه کلمه ده چې د دوو ټکو "فوك "او "لور " څخه جوړه ده .فوك معنا "اولس "او لور معنا "پوهنه "ده.(1)"

د انسان د فکري، ټولنیز او معاشي ژوند کـه څهٔ هم د دهٔ د عقلي استدلال او منطق په وسیله مخ ته راغلی دی .خو بیا هم د انسان کلتور روحاني قدرونه لري، د فطرت سره د ډېر نزدې تعلق او تقاعل په وجه که انسان و یوې خوا ته کلتور، روایات او د ژوند بنیادي اداب خلق کړل او بلې خوا ته انسان د خپل داخلي جذباتو او احساساتو د اظهار دپاره ګڼ شمېر تخلیقي وسیلې په کار راوستلې دي.

کله کله توری یا ټکی د خیال د بدن جامه واغوندي او کله بیا د رنګونو امتزاج و انځور ته ژبه ورکړي .همدغه ډول بعض خلق د کاڼو او تیږو نه د خپل تخیل مجسمې سازې کړي دي.

دا حقیقت اوس څرګند شوی دی چې انسان د خپلو لطیفو احساساتو، جذباتو اظهار په بېلا بېلو ډولونو کوي .د سهېلي پښتونخوا لرغونی ادب هم د ټولنیزو حقیقتونو سره ډېر جوت پاتې شوی دی .خلقو نارینه او ښځو په یو ډول د خپلو لطیفو احساساتو او جذباتو اظهار کړی دی او د فولکلور لمن ته یې بې کچه جواهر وربخښلي دي .لکه څرنګه چې نامتو فولکلوریسټ پروفیسر سیال کاکړ وایي:

"د کاکړستان سندریزه ناوه په خپله روحاني غېږ کښې د پښتو یو لوی اولسي ادبیات رانغاړي، زمونږ دغه شفاهي ادبیات، د پښتونخوا په غریځو سیمو کښې خوندي او بې سیواده افغانان ورسره مینه لري .په زراوو کلونه تېر شول او په کروړاوو اشعار جوړ شو خو ډېر کم تر مونږ پورې را ورسېدل. د کاکړۍ غاړو په حقله مونږ ویلی شو چې دغه اریائي اشعار دوه نیم زره کلن تاریخ لري.(2)"

د سهېلي پښتونخوا شفاهي /اولسي ادب په دوو برخو کښې تقسیم کېدی شي . یوه برخه یې د کاکړستان لرغوني سیمه ده چې په کښې د ژوب، قلعه سیف الله، مسلم باغ او بوری )لورالائي (او موسیٰ خېل شامل دي .په دویمه برخه کښې د لوئ کندهار، پښین، چمن او دغه ډول د بارډر سره جوتې علاقې په کښې شاملې دي .او دریمه ولکه د وېښې لهجې ولکه ده چې په کښې هرنائي او زیات سیمې شاملېدی شي .له دې څخه پرته د ناصرو، سلېمانخېلو او خلجیانو بېل اولسي ادبي اصناف دي چې بعض وختونه له نورو اصنافو سره سمون خوري او بعض ځان ته خپل فني او

تکنیکــي ځانګړتیــاوي لــري. پروفیســر داور خــان داؤد د فولکلــور برخــي پــه دا ډول وېشي:

مادي فولکلور (2)نیم مادي فولکلور (3)غیر مادي یا لفظي فولکلور.(3)"

**د اولسي ادب هیئتونه او اصناف:**

نومــوړي فولکلوریســټ او محقــق ســید خیــر محمــد عــارف پــه خپــل اثــر "د اتــڼ نــارې "کښــې دا اصــل څرګنــد کــړی دی چــې د فولکــوري نظــم تــر شــا د اتــڼ بــېلا بېــل ډولونــه خپــل جــدلیاتي بنســټونه لــري .د اولســي ادب چــې کــوم اصــناف زمــونږ و مختــه پــه کتابي یا طبعي /عملي انداز باندې وجود لري، په هغو کښې مهم په دا ډول دي:

**اولســي نظمــي اصــناف** :کــاکړۍ غــاړې، ټپــې /مصــرعې، د اتــڼ غــاړې، چیغیــان / انګــۍ، بلنــدۍ، چــاربیتې، اولســي ســندرې، بانــډاري ســندرې، خــور ښــادي د وادوه بــدلې، د اشــر بــدلې پــه اولســي نثــري اصــنافو کښــې نکلونــه، متلونــه، کیســۍ او نــور شامل دي.

کــاکړۍ غــاړې :دا د ســهېلي پښــتونخوا تــر ټولــو عــام او معــروف صــنف دی چــې پــه کښــې زیــاتره ښــځینوو د خپلــو احساســاتو اظهــار کــړی دی .د لرغــوني ســهېلي پښــتونخوا هــر وګــړی شــاعر کېــل کېــدی شــي لــه همدغــه وجــې دا د تعجــب خبــره نــۀ کېــل کیــږې .کــاکړۍ غــاړې مختصــر او ســاده اســلوب لــري، ځکــه زیــاتره وګــړو پــه اســانه او ساده پښتو کښې خپل خیالاتو څرګند کړي دي .لکه چې وایي:

"ســــــتا بېلتــــــون د دوبــــــي لمــــــر دی
زمــــــا پــــــر ســــــترګو برابــــــر دی
زه مــــــنم یــــــاري بــــــه وکــــــې
زمــــــا ګرانــــــی بــــــه پیــــــدا نــــــۀ کــــــې
پښــــــتنو نــــــازك مــــــه یــــــار دی
نــــــور مــــــه کــــــم کــــــړی تــــــاوان دی

په کاکړۍ غاړو کښې اولنی ډول د ماتې غاړې په نامه یادیږي په کوم کښې چې د اولې او دویمې مصرعې ردیف او قافیه بېل بېل وي او دویمه مصرعه د سېلاب نهه وي لکه:

بازار دی خرید یې نور خوري
په ډېر غم به مو هېریږي

النی ګرانی ده نسته
زما په غېږ کې ده خوب واخلي
تور یې نۀ کاوۍ خوریږك
ارسلالاس کړه و چاړه ته

په پورتنیو اولسي غاړو کښې پښتني وګړو )زنانه او نارینه (په ډېره ښایسته انداز باندې د خپلو احساساتو او جذباتو اظهار کړی دی .په کوم کښې چې بېلتون، مینه، ګرانی، مېړانه او ننګیالیتوب ستایل شوي دي.

د کاکړۍ غاړو همدغه صنف په وېښي لهجه کښې هم لیدل کېدی شي او هم د سېلمانخېلو په لهجه کښې لیدل کیږي.

دا غاړې د تکرار دپاره د میوزك په هیڅ یوه ساز ضرورت نۀ وي خو بیا هم که چرې څنګله ورسره ملګرې شي نو د غاړو خوند یو په لس زیات شي.

کاکړۍ غاړې په لویه سویه /سطح په دوه ډولونو کښې کښې ویل کیږي لکه چې د ځوانۍ یا یارۍ غاړې او د مړو غاړو .د ځوانۍ په غاړو کښې د مینې، یارۍ او بېلتون اظهار شوی وي .او د مېړانې په غاړو کښې د هغو پښتنو ستاینه شوې وي کوم چې د پښتون همت، غیرت، ننګیالیتوب او د مېړانې کردار ادا کړي. خو بیا هم د مړانې غاړي کله نا کله د قبایلي دښمنانو او بدیو سوب هم ګرځي.

**د اتڼ نارې** :د اتڼ نارې د اتڼ په وخت کښې اتڼ کوونکي وایي .د اتڼ په وخت کښې ښاغلی خیر محمد عارف درې ډولونه ښودلي دي چې "په کښې (1)عسکري نڅا (2)معاشرتي نڅا (3)مذهبي نڅاوي د یاد وړ ګڼلې کیږي(4)."

مرګړاځي یا کمزه اشي چې په نارینه او ښځې ګډه نڅا کوي د بوري او ړوب د سیمې دا لرغوني دور او روایت پاته شوی دی.

دهنده دهنده دهنده لیلى اتڼ کوي راغلې نن ده
پر مځکه یې درزا ده ، په اسمان کښې یې د خاورو مرغسن ده

د همدغې غاړې له ښایسته په رګ وید نامي اساطیر کښې هم د اصل څرګند ده دی چې" :ډېرې دوړې او ګرځونه د هغوی له پښو نه هغه وخت پورته کېدل چې اتڼ به یې کولو ".(5).
د اتڼ په غاړو کښې ګڼ شمېر موضوعات رااخستل شوي دي لکه چې له لاندینۍ غاړه کښې وایي:

د سم بوري په میان کې
خدایه !دوې نجونې وادۀ شوې په ارمان کې
یو د بل په رنګ لکه زرګر چې لټې جوړې د پېزوان کې

په همدغه غاړه کښې د استعارې نه کار اخستل شوی دی .د اتڼ په غاړو کښې د کنایې استعمال هم زیات په نظر راځي لکه چې وایي:

اسپه یم بهانه ، د سرو زرو تاویزونه مه په غاړه
د پلار پر اخور ښۀ وم د موذي په اخور تل شمه ولیاړه

چغیان :دا خبره ډېره مهمه ده چې په لرغونې پښتني ټولنه کښې و ښځو ته د اظهار برابره برخه او حق ورکول شوی ؤ .ښځو د خپلې مینې، د بېلتانۀ د اور، د یارۍ او د دوی سره د ناانصافیو په حقله د خپل اظهار نه کار اخستی دی .چغیان کوم چې د توري چیغه څخه وتلی دی یو داسې اولسي صنف دی چې نجونه یې د خپل وادۀ په وخت کښې د هغه په وسیله اظهار کوي، که دا نجلۍ سره د وادۀ په وخت کښې یا د ژوند په یوه بله برخه کښې ناانصافي، ستم او تېری شوی وي نو هغه دې څرګندونه د وادۀ په ورځ د نورو وګړو مخ ته د کنایې او طنز په انداز څرګندوي.

لالامـــــي بنــــد ســـــو پــــه نـــــور وطـــــن کــــي
ببــــرات خـــــور وادۀ کــــړم پــــه بـــــل وطـــــن کــــي
د بابــــــا مينــــــــه ســــــوه راڅخــــــــه پاتــــــه
دړد مــــــي ســـــوی ډېــــره پــــه زړۀ خـــــوړمن کــــي

د اولسـي ادب دغــه صــنف زيــاتره د شــمالي پښـتونخوا پــه زيــاترو علاقــو کښــې تخليـق شـوی دی .خـو بيـا هـم پـه سـهېلي پښـتونخوا کښـې کلـه نـا کلـه ټپـې يـا مصـرعې عـام وګـړي وايـي .د کـاکړې غـاړو پـه ډول دغـه صـنف هـم د خپـل سـاده او اسـانه اسـلوب پــه ســوب زيــات خوښــول کيــږي او خلــک زيــات خونــد ورڅخــه اخلــي، د دغــه صــنف موضــوعات هــم هغــه ډول د يــوۀ عــام وګــړي غــم، خوشــحالي، طنــز، ننــګ، نــاموس او کرکه څرګندوي.

ښــاغلی پروفيســر نــواز طــائر پــه روهــي ادب لــومړي جلــد کښــې د ټپــې پــه حقلــه ليکي:

"ټپــه د پښــتون د روح د حقيقــي عکــس ائينــه ده، غريــب او اميــر، د رنــد او صــوفي يـا د کـوز او پـاس د تخصـيص نـه بغيـر دا د هـر چـا د زړۀ اواز دی .او د هـر چـا زړۀ پـه خپـل خپل تابين سکون او ارام وربخښي(6).

ښــاغلی حبيبــي ټپــه زر کالــه زړه بــولي او شــېر محمــد ګنــډه پــور د تــاريخ خورشــيد جهـان مؤلـف ټپـه دوه نـيم زره کالـه زړه ګڼـي .پـه ټپـو کښـې بـېلا بېـل موضـوعات شـته لکــه مــذهبي، سياســي، حماســي، جماليــاتي او نــور دغســې .د بېلګــي پــه ډول دا څــو ټپې د موضوعاتو په لحاظ وګورئ:

جانانــــــه !راشــــــه چــــې پخــــــلا شــــــو
عمــــــر د ژمــــــي مــــــازيګر دی تېــــــر بــــــه شــــــينه
مــــــــــازيګری دی ښــــــــــېرا مــــــــــه کـــــــــړه
تــــه بــــه د نــــاز ښــــېرا کــــوې رښــــتيا بــــه شــــينه
پــــــه علامــــــــه د ســــــــپرلي پــــــوه شــــــوم
جينکــــــو راوړل پــــــه اوربــــــل کښــــــې زيــــــړ ګلونــــــه

کــــــه دي د زلفـــــــو ســـــــيوري نـــــــهٔ وای
د مــــــخ رڼـــــا بـــــه دي جهـــــان ســــــېزلی وونــــــه

**د نکلـو نـارې** :نکلونـه هـم د نثـري اولسـي ادب برخـه ده خـو بيـا هـم پـه دې کښـې کلـه وار کردارونــه پــر نظمــي او مقفــی انــداز کښــې اظهــار کــوي بعــض نکلونــه يــا اولســي کيســې پــر نظمــي انــداز سـره هــم ليکــل شــوي يــا بيــان شــوي دي .پــه نکلونــو کښــې رومــاني، حماســي، سياســي، معاشــي، معاشــرتي او داســې نــور موضــوعات راغونــډ شــوي دي .ځنــې کيســې يــا نکلونــه د ټــولنيزو روايــاتو، عقائــدو او اقــدارو د پلــورنې او پرمختــګ دپــاره تخليــق شــوي دي چــې پــه کښــې د وګــړو اخلاقــي او رومــانوي تربيــت غوره مقصد دی.

پـه سـهېلي پښـتونخوا کښـې د نکلونـو نـارې هـم ډېـر زوړ او لـه عمـرو راهيسـې ژونـدی پاتـه شـوی دی .خـو بيـا هـم رېـډيو، ټـي وي او نـورو ژبنـي ابلاغيـاتو نکلونـه د جهـان کـونج کـونج تـه رسـولي دي .د جديـد ژونـد ډولونـه چـونکې د انفراديـت يـا " .ابـلاغ کوي، د کوم په وجه چې د فولکلور روايات له منځه تللي دي.

پـه اولسـي نکلونـو کښـې رومـانوي کيسـې ډېـرې مشـهورې دي چـې پـه کښـې مـومن خـان او شـېرينو، طالـب جـان او ګلبشـره، ظريـف خـان او مـابۍ، ادم خـان او درخـانۍ او موسٰـی جـان او ګـل مکـۍ شـامل دي .کـه څـهٔ هـم د شـمالي پښـتونخوا رومـانوي نکلونـه دي خـو بيـا هـم دلتـه ډېـر معروف دي .پـه نکلونـو کښـې چـې کـومې نـارې، غـاړې يـا ټپـې بيان شوې دي .د هغو يو څو نمونې په دا ډول دي:

کــــــــــه دوې دي د کلابــــــــــــيس دروازې دوې دي
پـــر يـــوه رابيـــا راوزي، پـــر دا بلـــه يـــې د ورور ســـوګي نـــارې دي

مـــــــــــومن اووه چـــــــــــــېړې خـــــــــــورلې
د زبردســـــــت د چـــــــېړې ډېــــــر فريــــــاد کوينــــــه

کـــــــه دورې دورې پـــــــــه مانـــــــــده کـــــــــي
ادې مـــــــورې، مـــــــورې ادم خـــــــان کـــــــوي مړ کـــــــي

مـــا بـــه خلگـــې ورکـــړه، ادې مـــورې مـــورې دواړه لاس مـــې پـــه اوړۀ کـــې

لـه دې پرتـه پـه اولسـي نکلونـو کښـې نـور هـم بـېلا بـېل اصـناف را اخسـتل شـوي دي .
په نثري اولسي ادب کښې متلونه، کيسې او نور هم د بيان وړ دي.
**متـل** د يـو داسـې رښـتيا قـول نـوم دی کـوم چـې د يـوې ګټـورې تجربـې پـه بنسـټ د يـوه خاص څيز په باره کښې د پوهې نه ډکه نتيجه وړاندې کوي، لکه چې وايي:

**کيسـې** څـۀ دي کـول چـې پـلار نيکـۀ دي کـول (2)ژرنـده کـه د پـلار ده هـم پـه وار ده .
(3) چـې ډب نـۀ وي ادب نـۀ وي (4) .اول يـې شـرم کـاوئ بيـا يـې شـرعه کولـه (5) .شـرم يې کوت بېخي يې خوت.
هـم دغـه ډول کيسـې د پښـين او کنـدهار پـر لرغونـو ملکـو کښـې تخليـق شـوې دي چـې پـه دا کښـې د وګـړو داسـې سـوالونه او پوښـتنې پټـې سـاتلې وي چـې کـه ښـۀ معنويـت او موسيقت هم په کښې موجود دی .لکه زما کيسې تا يکه"..
دا د کيسـې اولـه برخـه ده پوښـتنه کـوونکی اولـه برخـه بيـانوي اوربـدونکی د همدغـه اولـې مصـرعې او جملـې پـه جـواب کښـې يـو متعلـق او نـزدې ځـواب ورکـوي، لکـه د دې کيسـې ځـواب دی، زمـا تـوره کـاغې، پـه اوبـو کـې بـازې، د اوربـدونکو څخـه دلتـه غوښـتنه کيـږي چـې د دې کيسې ځواب ولټوي.
همدغه ډول نوري کيسې په دا ډول دي:
زمـا خـور ماښـام بـې حسـاب مـړې پخـې کـړي سـهار چـې راپورتـه شـي نـو هـيڅ هـم نـۀ وي. جـواب: د ماخوسـتن يـا د شـپې سـتوري دي چـې سـهار يـو هـم پـه سـترګه نـۀ ليـدل کيږي.
له کښې راغلی سور بلوڅ، اغونستې دي پينځۀ پنځوس، ځواب يې پياز دی.
لـــه دې پرتـــه پـــه لرغـــونې پښـــتنې ټولنـــه کښـــې ګـــڼ شـــمېر اصـــناف وګـــړو او ټـــولنې تخليـق کـړي دي، د دغـو اصـنافو انحصـار چـونکې د يـوۀ نسـل څخـه و بـل نسـل تـه د سـپارلو پـه وجـه ژونـدی پاتـه دی .او خلګـو ډېـر کـم دغـه اصـناف پـه تحريـري يـا د ليـك پـه صورت کښې خوندي کړي دي.

د سـهیلي پښـتونخوا فولکلورسـتان د ډېـر قـدر او سـتاینې وړ دي چـې د ډېـرو سـختیو بـاوجود اولسـي ادب نمـونې او مـواد یـې خونـدي کـړي دي .پـه دې کښـې پروفیسـر سـیال کـاکړ، سـید خیـر محمـد عـارف، ابـوالخیر ځلانـد ، صـاحبزاده حمیـد الله، عبدالقدوس درانی د یادونې وړ دي.

**نتیجه**:

دا حقیقـت څرګنـد دی چـې د جدیـد یـا مابعـد الجدیـد پښـتنې ټولنـه چـې د کومـو خـارجي او انـدروني سـتونځو سـره مخـامخ ده پـه هغـه کښـې د شـفاهي ادب، د روایتـي او لرغـوني ژونـد انـداز هـم لـه مینځـه روان دی، د مېـډیا او ابلاغیـاتو نـورې وسـیلې بایـد چـې لرغـوني او شـفاهي ادب ده وسـیلې او ذرائـع پـه ښـه توګـه سـره خونـدي کـړي . ولـې چې پـه روایتـي ټولنـه کښـې چې د خلکـو تـر میـنځ کـوم انسـاني قدرونـه، روایـات او د فطرت سره کوم تعلق پاتې شوی دی .باید چې هغه ته د قدر په سترګه وکتل شي .

# حوالې


(1) داود ، داور خان، خوشحال او فوکلور، مخ .13

(2) کاکړ، پروفیسر، سیال، کاکړی، مخ .5

(3)داود ، داور خان، خوشحال او فولکور .مخ .6

(4) عارف، سید خیر محمد ، د اتڼ نارې، پښتو اکېډمی کوټه، مخ .34

(5) عارف، سید خیر محمد ، د اتڼ نارې، مخ .35

(6) رضا ، محمد افضل، پروفیسر ، د پښتو ژبې او ادب تاریخ، مخ .87